تأسیس: ۱۳۹۴ل ل

# شتمني SHTAMANI

اوونیزه

زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت

د ذوالقعدې ۲۶-۱۴٤٦ل س | د غبرکولي ۳-۱٤۰۴ل ل | د مي ۲۴-۲۰۲۵ز

پنځـم کال | ۱۴۱ گڼـه | ٤ مخیزه



**ه ابي هریره رضی الله عنه څخه روایت دئ، چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:** حاجیان او عمره کوونکي د الله وفد (مېلمانه) دي، که له الله جل جلاله څخه دعا وغواړي؛ نو الله جل جلاله ئي قبلوي او که بخښنه ورڅخه وغواړي، و به ئي بخښي. [ مشتاق المصابح کتاب المناسیق (حدیث الرقم۳٦۲۵)]

**از ابی هریره رضی الله عنه روایت شده است، که رسول الله ﷺ فرمود است:** حجاج و عمره کننده گان، مهمانان خدا هستند، اگر از خداوند طلب دعا کنند، الله جل جلاله دعاهای شان را مستجاب می‌کند و اگر طلب مغفرت نمایند آنان را نیز خواهد بخشید. [ مشتاق المصابح کتاب المناسیق (حدیث الرقم۳٦۲۵)]

( د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري )

## سرمقاله

### اصلاحات در وزارت مالیه


در شرایط کنونی که کشور ما با چالش های گوناگون دچار است اما نقش وزارت مالیه در تأمین منابع مالی پایدار، مدیریت مؤثر بودجه ملی، بهبود نظام مالیاتی، اصلاحات در پروسه تدارکاتی و شفافیت در مصارف عامه از هر زمان دیگر پررنگ تر شده است. این موارد ستون‌های اصلی فعالیت‌های وزارت مالیه را تشکیل می‌دهند. این وزارت در پهلوی این که مسئولیت تنظیم و تطبیق سیاست های مالی امارت اسلامی را به عهده دارد، در ضمن مأموریت نیز دارد تا اعتماد مردم، سکتور خصوصی و جامعه جهانی را جلب و حفظ نماید. یکی از راه های تحقق این هدف، ارتقای شفافیت مالی، دیجیتل‌سازی کار های اداری و اجرای اصلاحات بنیادی در ساختارهای مالی است. در سال‌های اخیر، وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان گام‌های ارزنده‌ای در راستای تقویت سیستم جمع آوری عواید، اصلاح ساختار گمرکی و بهینه سازی مصارف عامه برداشته است. اکنون با تداوم تعهد به اصل حساب‌دهی، تلاش داریم تا منابع ملی را به شکل عادلانه، مؤثر و با در نظر گرفتن اولویت های اساسی مردم افغانستان مصرف کنیم. ما به آینده امیدواریم وزارت مالیه با همکاری نهادهای امارتی، سکتور خصوصی و نهادهای بین‌المللی، مسیر بازسازی اقتصادی کشور را هموار خواهد ساخت. اطمینان داریم که با انسجام، شفافیت و تعهد به اصول مدیریت سالم مالی، می‌توانیم اقتصاد افغانستان را از وابستگی به سوی پایداری و خودکفایی سوق دهیم.

**با احترام**

**اداره**

## د نړیوال بانک له لوري د پورونو د ورکړې په تړاو د مالیې وزارت اعلامیه!






د مالیې وزارت له لوري د نړیوال بانک له استازو سره د دوامداره اړیکو او خبرو په پایله کې، په لومړي سر کې نړیوال بانک په کابل کې خپل دفتر پرانیست؛ اوس دغه بانک په بشپړه توگه دې ته چمتو سوی، چې په افغانستان کې د خپلو پاتي پورونو د ورکړې عملي لړۍ پیل کړي. نړیوال بانک په افغانستان کې له لوجیستیکي او رغنیزو شرکتونو څخه د تثبیت سویو ارقامو له مخې (۵۰) میلیونه ډالره پوروړی دئ، چې دا تثبیت سوی پور به په خلورو پړاوونو کې له مالیې وزارت سره په همغږۍ اړوندو شرکتونو ته ورکول کېږي. نړیوال بانک به په لومړي پړاو کې، (۸،۱۰) میلیونه ډالر په مستقیم ډول شرکتونو ته ورکړي او پاتي (۳۹،۱۱) میلیونه ډالر به په درېیو پړاوونو کې د مالیې وزارت له لاري ورکړي. مالیې وزارت د نړیوال بانک له لوري د پورونو د ورکړې پروسې پیلېدل یو ستر مالي پرمختگ بولي، چې له دې سره به پراختیایي پروژې له سره پیل سي، خلکو ته به کاري فرصتونه رامنځته سي او د ملي اقتصاد د لا پیاوړتیا په برخه کې به مثبتې پایلې ولري.

## کابل ښار کې یوه اندازه ځمکه له غصب څخه خلاصه سوه



د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست د کابل ښار اتمې حوزې په سیمه کې له (۵۰) جریبه امارتي ځمکې څخه (٦،۵) جریبه غصب سوې ځمکه بیرته راوگرځوله. دغه امارتي ځمکه، چې له کلونو راهیسې د یو شمېر فرصت طلبه اشخاصو له خوا نیول سوې وه او غیر قانوني کورونه پرې جوړ سوي ول، رسماً تخریب او له غصب څخه خلاصه سوه. په دې سیمه کې ځینو کسانو په غیرقانوني فعالیتونو لاسه پوري کاوه، چې د سیمې د خلکو له پاره ئې سرخوږی پیدا کړی وو. دلته به د غیر قانوني جوړو سویو کورونو په نړولو سره د هر ډول فساد مخه ونیول سي او د خلکو له پاره به بشپړه امنیتي فضا رامنځته سي. د یادوني وړ ده، چې په دغه امارتي ځمکه باندې به په راتلونکې کې تولگټې پروژې پلې سي، چې په ابادۍ سربېره به د سیمې د ښکلا او یو شمېر هیوادوالو ته د کاري فرصتونو د رامنځته کولو زمینه هم برابره کړي.

## د بیهقي سوداگریز مارکېټ د پروژې تړون لاسلیک سو




د بیهقي سوداگریز مارکېټ د پروژې تړونلیک د مالیې وزارت اداري معین مولوي دوست محمد مخلص، د اطلاعاتو او کلتور وزیر مولوي خیرالله خیرخواه، د چارو اداري لوی رئیس شیخ الحدیث مولوي نورالحق انور او د فقیر محمد رحماني ودانیز شرکت استازي په گډون د چارو ادارې د غونډو په تالار کې لاسلیک سو. دغه مارکېټ، چې د کابل ښار لومړۍ ناحیې اړوند منډیې سیمه کې موقعیت لري د مالیې او د اطلاعاتو او کلتور وزارتونو گډه جایداد دئ او ټول مساحت ئې (۸۰۲)مترمربع دئ، چې (۳٦۰)مترمربع مساحت ئې د مالیې وزارت اړوند او (۴۴۲)مترمربع ئې د اطلاعاتو او کلتور وزارت پوري تړاو لري. د تړون له مخې یاد جایداد به د فقیر محمد رحماني ودانیز او سړک جوړوني شرکت له لوري د (۱)کال په موده په (۲)پوړونو کې د (۳۰)میلیونه افغانیو په پانگوني سره جوړېږي، چې (٦۰)سلنه گټه به ئې امارت او د (۸) کلونو له پاره به (۴۰) سلنه گټه شرکت ته ورکول کېږي.

## د ثور په میاشت کې د هیواد له گمرکونو څخه (۱۸۴) ټانکره بې کیفیته نفتي مواد مسترد سوي دي



د مالیې وزارت د نفتي موادو د کیفیت او څارني ریاست، چې د ټاکل سویو معیارونو له مخې هیواد ته د واردېدونکو نفتي موادو کیفیت معلوموي، د روان (۱۴۰۴ هـ.ل) کال د غویي (ثور) په میاشت کې ئې د هیواد له یو شمېر گمرکونو څخه (۱۸۴) ټانکره واردېدونکې بې کیفیته نفتي مواد بیرته گرځولي دي. له مسترد سویو موادو څخه (۸) ټانکره پیټرول له حیرتان گمرک څخه، (۱۱۵) ټانکره ډیزل او (۴) ټانکره پیټرول له نیمروز گمرک څخه، (۵۵) ټانکره ډیزل د فراه له گمرک څخه او (۱) ټانکر ډیزل او (۱) ټانکر اوبلن گاز د تورغونډۍ له گمرک څخه بیرته گرځول سوي دي. د یادولو ده، چې د مالیې وزارت د نفتي موادو د کیفیت او څارني ریاست د ټاکل سویو معتبرو معیارونو له مخې، هیواد ته د لوړ کیفیت او معیاري نفتي موادو د را واردولو زمینه برابروي او د بې کیفیته نفتي موادو له واردولو څخه په کلکه مخنیوی کوي.




**د گمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو تر منځ د همغږۍ ناسته وسوه**

م ۲




**د پلټني سپارښتنو د پلي کېدو د تعقیب په موخه له یو شمېر ادارو څخه لیدنه وسوه**

م ۲



**د گمرکونو لوی ریاست په اداري ناسته کې پر یو شمېر مهمو موضوعاتو بحث وسو**

م ۲



**د بلخ ولایت د نائب اباد په گمرک کې د سایوان جوړولو پروژې چاري په چټکۍ سره رواني دي**

م ۳



**تاثیرات منفی قاچاق بر اقتصاد کشور**

م ۳




**د افغانستان او روسیې تر منځ د اقتصادي اړیکو پراختیا ــ "کازان فورم"**

م ٤

شتمني SHTAMANI
اوونیزه

## تېره اوونۍ د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې قاچاقي توکي نیول سوي دي



د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د نیمروز، کندهار او هلمند ولایتونو په بېلابېلو سیمو کې قاچاقي توکي نیولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل له ګمرکي محصول پرته ئې په قاچاقي ډول افغانستان ته راوړي. په نیول سویو توکو کې (۱۴۵۸۸) کیلو ګرامه چاکلېټ، (۲۲۲۳) کیلو ګرامه انساني طبي درمل، (۳۰۰) کیلو ګرامه لواشک، (۲۳۷۰) کیلو ګرامه رُب، (۲۱۰۰) کیلو ګرامه رخت، (۱۰۸۰) کیلو ګرامه شامپو، (۸۲۵) کیلو ګرامه لوبیا، (۴۴۰) کیلو ګرامه شیریني باب، (۴۱٦) کیلو ګرامه جوس، (۲۵۰) کیلو ګرامه خالي کارټن، (۱۲) پایې کولرونه او (۳۱) عرادې موټرسایکلونه شامل دي. نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي. د یادوني وړ ده، چې د ماليې وزارت د ګرځنده څارني کارکوونکي په ټول هیواد کې ګرځنده څارنه کوي او هیچا ته اجازه نه ورکوي، چې ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

## د دعوت او ارشاد رئیس او ورسره مل پلاوي د ماليې وزارت له مرکزي رئیسانو سره وکتل

د دعوت او ارشاد رئیس مولوي عبدالهادي سیف الخالد او ورسره مل پلاوي د ماليې وزارت له مرکزي رئیسانو سره وکتل. په دې لیدنه کې د دعوت او ارشاد رئیس د دعوت کار یو دروند مسئولیت وباله او په تړاو ئې له رئیسانو څخه د همکارۍ غوښتنه وکړه. نوموړي، سپارښتنه وکړه، چې کارکوونکي باید په جماعت لمونځونه ادا کړي، خپل سیرت او صورت د شریعت مطابق عیار کړي او له مراجعینو سره ښه چلند وکړي او په خپلو دندو کې له غفلت څخه ډډه وکړي. ښاغلو رئیسانو ژمنه ورسره وکړه، چې په خپلو دفترونو کې به د پورته ذکر سویو موارد و د پلي کولو په تړاو اصلاحي غونډه جوړوي او دا مسایل به له خپلو کارکوونکو سره شریک کړي.

## د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو تر منځ د همغږۍ ناسته وسوه

د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو تر منځ د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د (۱۴۰۴) کال د همغږۍ دوهمه ناسته د یاد معینیت د غونډو په تالار کې وسوه. په دې ناسته کې، چې د اړوندو ریاستونو مسئولینو ګډون کړی وو، په پیل کې د ګمرکونو او عوایدو معین ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترځنګ وویل، چې د چارو د لا ښه والي له پاره د اړوندو ریاستونو تر منځ همغږي اړینه ده او ټولو مسئولینو ته ئې سپارښتنه وکړه، چې د دې ناستو پرېکړې پر خپل وخت سره پلي کړي. ور پسې د تېرې ناستې د پرېکړو په اړه بحث او خبرې وسوې او د ټاکل سویو پلاوو راپورنه واورېدل سول. همدارنګه په دې ناسته کې د اسیکوډا په سیستم کې د نفتي او سوداګریزو جوازونو د ثبت پر څرنګوالي، د صنعتي فابریکو له لوري د خامو موادو پر واردولو او په دې برخه کې پر سته ستونزو او حل لارو، د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د (۱۷) ماده ییز حکم پر پلي کېدو او یو شمېر نورو موضوعاتو بحث ترسره او په اړه ئې اړینې پرېکړې وسوې. د یادوني وړ ده، چې دغه ناستې د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو تر منځ د ګډو همکاریو د پیاوړي کولو په موخه کېږي، چې دغه لړۍ به په راتلونکې کې هم دوام ولري.

## د پلټني سپارښتنو د پلي کېدو د تعقیب په موخه له یو شمېر ادارو څخه لیدنه وسوه

د پلټني سپارښتنو د پلي کېدو د تعقیب په موخه د ماليې وزارت د کورنۍ پلټني لوی ریاست پلاوو د کابل ښار اړوند دوهمې، پنځمې، اتمې، نهمې، دوولسمې، څوارلسمې، پنځلسمې او اوولسمې مالیاتي حوزو او د دې ولایت اړوند د قره باغ، کلکان، میربچه کوټ او شکردرې ولسوالیو د عوایدو مدیریتونو څخه لیدنه وکړه. په دغه تعقیبي سفر کې د کورنۍ پلټني لوی ریاست پلاوو د یادو ادارو له مسئولینو سره ناستې وکړې او د (۱۴۰۳هـ.ل) کال د پلټنو په ترڅ کې د ورکړل سویو اصلاحي سپارښتنو د پلي کېدو ارزونه ئې وکړه. د کورنۍ پلټني لوی ریاست پلاوو د یادو ادارو له مسئولینو څخه وغوښتل، چې د پلټني د مؤثریت او چارو د سمون په موخه د پلټني سپارښتني په ټاکلې موده کې پلي او راپور ئې د کورنۍ پلټني لوی ریاست سره شریک کړي. د یادولو ده، چې د کورنۍ پلټني لوی ریاست ژمن دئ؛ ترڅو د پلټونکو له لوري د پلټني چارو د اغېزمنتیا په موخه اړوندو ادارو ته د ورکړل سویو سپارښتنو پلي کېدل په منظمه او دوامداره توګه تعقیب او راپور ئې د وزارت له مقام سره شریک کړي.




## د ګمرکونو لوی ریاست په اداري ناسته کې پر یو شمېر مهمو موضوعاتو بحث وسو

د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د رئیس الحاج مولوي محمد حامد احمد په مشرۍ د (۱۴۰۴هـ.ل) کال دوهمه اداري ناسته د یاد ریاست په مقام کې وسوه. په دې ناسته کې د ګمرکونو لوی ریاست تخنیکي او عملیاتي مرستیالانو، رئیسانو او یو شمېر آمرینو ګډون کړی وو. ګډونوالو د هیواد په ګمرکونو کې د پراختیایي او تجهیزاتي پروژو د پلي کېدو پر څرنګوالي، د صادراتي، وارداتي او ټرانزیټي توکو په ګمرکي طی مراحلو کې پر سته ستونزو او حل لارو، په ګمرکونو کې د یو شمېر سوداګریزو شرکتونو او صنعتکارانو د غوښتنو او د ستونزو پر حلولو، د ورځنیو چارو په لا ښه کولو او یو شمېر نورو موضوعاتو په اړه خبرې وکړې او په تړاو ئې ځینې پرېکړې هم وسوې. همدارنګه په دې ناسته کې په ولایتي ګمرکونو کې د خطر د کمېټو د پرېکړو راپور هم وړاندې سو او د چارو د لا ښه والي په موخه سلا مشورې سره شریکې سوې.




## ورکشاپ آموزشی در مورد امور مالی و عوایدی برای مسئولین ۳۴ مستوفیت کشور دایر گردید

ریاست عمومی عواید وزارت مالیه ورکشاپ آموزشی در مورد امور مالی و عوایدی را برای (۳۴) تن مستوفی صاحبان و آمرین عواید مستوفیت ها دایر نمود. در مراسمی که به همین مناسب در تالار اکادمی ملی عواید و گمرکات وزارت مالیه راه اندازی گردیده بود، الحاج ملا محمد ناصر آخند وزیر مالیه، شیخ الحدیث مولوی نورالحق انور رئیس عمومی اداره امور، مفتی عبدالمتین سعید معین عواید و گمرکات، مستوفی صاحبان و آمرین مالی مستوفیت های ولایات اشتراک داشتند. رئیس عمومی اداره امور در سخنان افتتاحیه این ورکشاپ خطاب به اشتراک کننده گان گفت، که شما یک بخش مهم را در این نظام به پیش میبرید که نیاز مبرم به آگاهی و دانش مسلکی دارد. هر قدر به دانش شما افزوده شود، به همان اندازه کارهای شما به درستی انجام یافته و بیت المال حفظ میشود. شما با رهبری و مدیریت درست، حسابرسی و نظارت از عوامل می توانید در قسمت جمع آوری عواید و کنترل مصارف می توانید به این امر مهم نائل آید که این کار صرف با ارتقای ظرفیت ممکن است. وزیر مالیه طی سخنان خویش به مسئولین وزارت مالیه در مرکز و ولایات پیرامون دقت بیشتر در حسابات مالی و عواید، شفافیت و اجراآت اصولی، استفاده از تجارب دیگران و هماهنگی بیشتر توصیه نمود و تأکید نمود که مسئولین باید ظرفیت مسلکی خویش را انکشاف دهند تا وظایف محوله به وجه احسن آن به پیش برده شود. معین عواید و گمرکات در سخنان خویش گفت، اقتصاد در نظام اسلامی از اهمیت بالای برخوردار است. اقتصاد قوی نه تنها به رشد و توسعه کشور کمک می کند، بلکه به تحقق اصول اسلامی مانند عدالت، همبستگی و رفاه عمومی نیز منجر می شود. از آنجا که سروکار شما با مردم و دولت است و مسئولیت شما مهم می باشد، دقت، توجه و هماهنگی با ادارات جهت رسیدن به نتایج مثبت و ارتقای ظرفیت تان نیز اهمیت دوچندان دارد. گفتنی است که این ورکشاپ به مدت (۳) روز ادامه داشته ودر آن تمامی موضوعات مربوط به عواید، خزاین، بودجه ملی و اصولنامه اجرای بودجه ملی سال روان، به اشتراک کنندگان تشریح خواهد شد.




## د پلټني کلني پلان د غوره تطبیق په موخه ناسته وسوه

د ماليې وزارت د کورنۍ پلټني لوی رئیس الحاج ملا عبدالهادي ابرار په مشرۍ د (۱۴۰۴هـ.ل) کال د پلټني کلني پلان د غوره او پر وخت تطبیق په موخه د همغږۍ ناسته وسوه. په پیل کې د کورنۍ پلټني لوی رئیس د کلني پلان د غوره او پر وخت تطبیق د ارزښت او اغېزو په اړه خبرې وکړې او ټینګار ئې وکړ، چې یاد پلان باید د نورو نظارتي او همدارنګه د پلټني لاندې ادارو سره په پوره همغږۍ پلي سي. د کورنۍ پلټني لوی رئیس پلټونکي مکلف کړل، چې په اړوندو ادارو کې په پوره مسلکیتوب او د منل سویو معیارونو سره سم پلټنه ترسره کړي؛ څو په چارو کې اغېزمنتیا او لا روڼتیا رامنځته سي. د کورنۍ پلټني لوی رئیس د دې ریاست د ټولو مسئولینو او د پلټني ټاکل سویو پلاوو ستونزو او غوښتنو ته د اصولي رسېدني ډاډ ورکړ او په اړوندو چارو کې ئې په پوره اخلاص او امانتدارۍ ترسره کولو ټینګار وکړ.



محمد "اندیشمند"

# تاثیرات منفی قاچاق بر اقتصاد کشور

اوونیزه

قاچاق اموال یکی از چالش‌های جدی اقتصادی، اجتماعی و امنیتی برای بسیاری از کشورها به ویژه کشورهای در حال توسعه مانند افغانستان است. قاچاق زمانی رخ می‌دهد که کالاها بدون پرداخت مالیات یا تعرفه‌های قانونی، به صورت غیرقانونی وارد یا خارج می‌شوند. این پدیده پیامدهای گسترده و مخربی دارد که در ادامه بررسی می‌شود.

یکی از نخستین آثار منفی قاچاق اموال، کاهش عواید دولت است. دولت‌ها برای اجرای پروژه‌های عام‌المنفعه مانند ساخت مکاتب، شفاخانه‌ها و زیربناها به مالیات متکی‌اند. اما اموال قاچاق از پرداخت این مالیات فرار می‌کنند و بودجه دولت کاهش می‌یابد.



از سوی دیگر، تولیدات داخلی متضرر می‌شوند. کالاهای قاچاقی که معمولاً ارزان‌تر از اجناس داخلی هستند، باعث می‌شوند مردم کمتر از محصولات وطنی استفاده کنند. این روند صنایع و کارخانه‌های داخلی را به سمت ورشکستگی می‌کشاند و فرصت‌های شغلی از بین می‌روند. افزایش بیکاری و فقر، از دیگر پیامدهای مستقیم قاچاق است. با کاهش تولید داخلی و بسته شدن کارخانه‌ها، بسیاری از جوانان بی‌کار شده و در نهایت ممکن است به جرایم روی بیاورند.

قاچاق اموال همچنین با فساد اداری و ضعف حاکمیت قانون پیوند نزدیک دارد. گروه‌های قاچاقچی با رشوه دادن به برخی مسئولین، راه‌های قانونی را دور می‌زنند و این وضعیت اعتماد مردم را به نظام کاهش می‌دهد.

در نهایت، قاچاق می‌تواند امنیت ملی را نیز تهدید کند. برخی از گروه‌های مسلح از طریق قاچاق سلاح، مواد مخدر و سایر اموال، خود را تمویل مالی می‌کنند که باعث ادامه جنگ و ناامنی می‌شود.

قاچاق اموال پدیده‌ای بسیار زیان‌بار است که باید با آن مبارزه جدی صورت گیرد. تقویت گمرکات، اصلاح نظام مالیاتی، مبارزه با فساد، آگاهی‌دهی به مردم، و همکاری نهادهای امنیتی، راهکارهایی برای کاهش این پدیده اند. جلوگیری از قاچاق، گامی مهم در جهت توسعه پایدار و تأمین عدالت اقتصادی در کشور می‌باشد.

اینکه قاچاق یک پدیده شوم و ناکار است، اضافتر از سه سال می شود که وزارت مالیه در جلوگیری از قاچاق اموال تجاری گام های استوار برداشته و در این زمینه دست آورد های ملموس دارد. این وزارت با همکاری و تلاش های خستگی ناپذیر کارمندان مراقبت سیار در گمرکات ولایات مختلف هفته وار به هزاران تن مواد قاچاقی کشف و ضبط می کند و مجرمین قضایا به پنجه قانون می سپارند. وزارت مالیه بالخصوص ریاست عمومی گمرکات در رابطه به جلوگیری قاچاق اموال و به حد اقل رساندن این پدیده لایحه وطرح جامع دارد که توانسته است در این زمینه به نتایج خوبی دست یابد و این وزارت در تلاش است که هر نوع عمل که مخالف قانون گمرکات و عواید ودیگر بخش ها باشد پیگیری کند.

## د بلخ ولایت د نائب اباد په گمرک کي د سایوان جوړولو پروژې چاري په چټکۍ سره رواني دي

د ماليې وزارت د گمرکونو لوی ریاست له لوري د بلخ ولایت د څلورم پورټ (نائب اباد) په گمرک کي د (۳۰،۵) میلیونه افغانیو په ارزښت د سوداگریزو توکو د تشریح له پاره د سایوان جوړولو پروژې رغنیزي چاري (۸۵٪) بشپړي سوي دي.

دغه ستر سایوان (۳۵۰) متره اوږدوالی او (۲۳) متره پلنوالی لري، چي د چارو په بشپړېدو سره به ئې د گمرکي تشریح پر مهال د سوداگریزو توکو د خوندیتوب په برخه کي سوداگرو



او د گمرک کارکوونکو ته ګڼې اسانتیاوي رامنځته سي. د یادي پروژې لگښت د ماليې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کېږي او چاري ئې هم د یوه افغاني شرکت له لوري پرمخ وړل کېږي.

# اعلانات داوطلبی

### د داوطلبی خبرتیا

د ماليې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست غواړي چي د کابل ښار (۵) مي او (۱٦) مي ناحیې اړوند (۴) بابه ملکیتونه په جلا جلا ډول د (۲) کلونو له پاره د داوطلبۍ له لاري اعلان ته وړاندي کړي.

۱. د بگرامي نساجي عمومي دروازې سره د یو باب خوارکه فروشي غرفه چي (۱۰،۷۳) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲۴۰۰) افغانۍ ده. کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۲٤٦۳۸۱ - ۳٤,٥۰٤۰۲۱

۲. د بگرامي نساجي جنوبي دېوال سره یو باب نانوائي چي (٦۲.۷۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۸۲٦۰) افغانۍ ده. کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ۳٤,٥۰٤۲۳۷-٦۹,۲٤٥۸۰۷

۳. د بگرامي نساجي جنوبي دېوال سره یو باب خونه چي (۴۲.۷۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٦۰۰۰) افغانۍ ده. کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۲٤٦۳۰۱ - ۳٤,٥۰٤۰٤٤

۴. په کوټه سنگي کي د نظیف مارکېټ یو باب B-٤۸ نمبر دوکان چي (۱٥) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲٥۱٥۰) افغانۍ ده. کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦ ۳٤,٥۱٥۲۷۲

هغه حقیقي او حکمي اشخاص چي غواړي پورته ذکر سوي ملکیتونه په کرایه ونیسي کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۴/۰۲/۳۰ وروسته ۱۴۰۴/۰۳/۱۹) د (۲۱) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپانه تر لاسه کړي.

پته: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزي ودانۍ (۵) پوړ د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د اړیکو شمېره:-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤ - ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷

د داوطلبۍ ټاکلې نېټه: ۱۴۰۴/۰۳/۲۰ د سهار ۱۰:۰۰ بجې تر سره کېږي.

### اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه دوکان ذیل مربوط بلاک A و B واقع شهرك البرز مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل ویک باب غرفه نمبر۲۹ واقع منزل اول تعمیر۱٤ منزله سینما پامیر به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد. به مدت( ۲ ) سال.

۱.دوکان نمبر۲ به مساحت ٤۸,٦۸ مترمربع واقع شهرك البرز ناحیه ۱٦ شهر کابل مربوط بلاك Aبه کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۸۰۰۰) افغانی. کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۲۰۳٥٤ ۳٤,٥۲۱۹۳

۲. دوکان نمبر ٤ به مساحت ۲۷ مترمربع واقع شهرك البرز ناحیه ۱٦ شهر کابل مربوط بلاكB به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۸۰۰۰ ) افغانی.

۳.دوکان نمبر٥ به مساحت ۱۷,۳٦مترمربع واقع شهرك البرز ناحیه ۱٦ شهر کابل مربوط بلاكB به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٤۰۰۰) افغانی.

٤.دوکان نمبر۱۲ به مساحت ۱٥,۹ مترمربع واقع شهرك البرز ناحیه ۱٦ شهر کابل مربوط بلاكB به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٤۰۰۰) افغانی. کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۲۰۲۹۸ ۳٤,٥۲۱۷۸

٥.یک باب غرفه نمبر۲۹ بمساحت٤,۲ مترمربع واقع منزل اول تعمیر۱٤ منزله سینما پامیر مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲۲٤۱٦,٦ )افغانی. کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۲۱۹ ۳٤,٥۱۳٤۲

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق الذکر را داشته باشند میتوانند در خواست های شان را از تاریخ ۳۰/ ۲/ ۱۴۰۴ الی ٥/ ۳ / ۱۴۰۴ به مدت (۷ ) روز به ریاست عمومی املاك امارتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیرتعمیر۱٤منزله،منزل٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.

شماره تماس-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤ - ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)

تاریخ مجلس داوطلبی: ٦ /۳ / ۱۴۰۴ به ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

### داوطلبی خبرتیا

د ماليې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست غواړي چې د کابل ښار په لسمه (۱۰) ناحیه کې یو (۱) امارتي جایداد د شهر نو سوداگریزه او استوگنیزه ودانۍ په نوم چې مساحت یې (۲٦۷٦) متره مربع دی د پانگونې په موخه د ازادي داوطلبي له لاري اعلان ته وسپارل سو، هیڅ شرکت و نه سو کولای چي د شرطپاڼې معیارونه پوره کړي؛ نو په همدې اساس یاد جایداد بیا ځلي د ازادي داوطلبۍ له لاري اعلان ته سپارل کېږي اوسمهال د یاد جایداد دوه (۲) پوړه ځمکتل ( زیرزمیني ) کیندنه سوې ده او څلورو اړخونو ته ئې سیخ لرونکی کانگریټي دېوال جوړ دئ، د یاد جایداد د جي، پي ایس کوردیناتو (طول البلد ـ ٦۹.۱۷۰٦۹۰) او (عرض البلد ـ ۳۴.٥۳٥۰٥۲) دي، چي له (۲) ځمکتلونو سره په (۲۰) شل پوړونو کي جوړېږي.

ټول هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې غواړي په یاد امارتي جایداد پانگونه وکړي کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپرېدو څخه وروسته د(۱٥) ورځو په موده کي د ماليې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او شرطپاڼه د (٥۰۰۰) پنځه زره افغانیو په بدل کي تر لاسه کړي، آفرخلاصونه د ماليې وزارت خیبر د غونډو په تالار کي د اعلان د ختمېدو تر نېټې یوه ورځ وروسته په ۱۴۰۴/۳/۱۷ هـ ش نېټه ترسره کېږي.

د اعلان د خپرېدو نېټه: ۱۴۰۴/۳/۱ هـ ش د اعلان د ختمېدو نېټه: ۱۴۰۴/۳/۱٦ هـ ش

د اړیکي شمیره: ۹۳۷۹٦۷٥۷۴۸٦+ د واټسپ شمیره: ۹۳۷۹٦۷٥۷۴۸٦+

د شرطپاڼي د ترلاسه کېدو پته: د امارتي املاکو لوی ریاست سینماپامیر ۱۴ پوړیزه ودانۍ، څلورم پوړ، د پلان او پانگوني آمریت.

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسئول مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکسپانه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)



# MoF's Statement: World Bank Disburses Its Outstanding $50 mln Loans




As a result of continuous communication process and discussions on behalf of MoF with the representatives of World Bank (WB), the WB has opened its office in Kabul, and it is now fully prepared to commence the practical process of disbursing its outstanding loans in Afghanistan. The WB owes $50 million to logistics and construction corporations in Afghanistan, according to confirmed figures, which will be disbursed to the relevant corporations in four phases in full coordination with MoF. In the first phase, the WB will disburse $10.8 million directly to the companies/ corporations, and the remaining $39.11 million will be disbursed directly through the Ministry of Finance in three phases. MoF considers the commencement of the loans disbursement process by the World Bank a 'major financial development', which will relaunch major development projects at nation-wide, create job opportunities, and obtain positive consequence in further strengthening the national economy.

# 4 Afghan-border Customs Offices Return 184 Tankers of Substandard Oil in 1M




The Directorate of 'Petroleum Products Quality and Supervision' of MoF, which determines the quality of petroleum products imported into Afghanistan according to set standards, rejected 184 tankers of substandard petroleum products imported from numerous customs offices in the month of Sawar 1404 – Afghan Calendar (20/ Aril – 20/ May/ 2025). Of the rejected materials, eight tankers of gasoline/ petrol were rejected from Hairatan Customs, 115 tankers of diesel and four tankers of gasoline from Nimroz Customs, 55 tankers of diesel from Farah Customs; and one tanker of diesel and one of LPG tanker from Torghundiy Customs were returned. Notably, The Directorate of Petroleum Products Quality and Supervision, in accordance with set and reliable standards, provides the basis for the import of high-quality and standard petroleum products into Afghanistan, and strictly prevents the import of low-quality petroleum products.




# د افغانستان او روسیې تر منځ د اقتصادي اړیکو پراختیا ــ "کازان فورم"




د ټاس ـ TASS په نوم روسي خبري اژانس د اسلامي امارت او روسیې د اقتصادي اړیکو د نوي فصل په باب (۷) بېلابېل راپورونه خپاره کړي دي. ټاس لیکلي دي، چې "روسیه ــ اسلامي نړۍ: کازان فورم" تر سرلیک لاندي لویه غونډه کې تر (۱۰۰) د زیاتو هیوادونو استازي ګډون لري، اسلامي امارت هم په کښې ګډون کړی دئ. په دې فورم کې د اسلامي امارت مشرانو د کاني زېرمو له استخراج څخه ئې درواخله بیا تر کرنیزو، ټرانسپورټي او سوداګریزو اړیکو پوري غونډې تر بحث لاندي نیولي دي. د دې اژانس په یوه راپور کې په ټولیز ډول د افغانستان د کاني زېرمو په هکله خبري سوي دي او وایي د روسیې د لومړي وزیر مرستیال الیکسي اُورچک ویلي دي، چې روسیه د داسي مځکنیو/ ځمکنیو فلزاتو له مخې د جیولوژیکي څېړنو بشپړه وړتیا لري. ورپسې لیکي، چې افغانستان بیا د وچې مېوې او کرنیزو محصولاتو په تړاو علاقه لري، چې په روسي بازارونو کې ئې و پلوري. د کازان فورم په لویه غونډه کې روسیې افغانستان ته ډاډ ور کړی دئ، چې د روسیې په لویو بازارونو کې یاد هیواد ځای پیدا کړي. په یوه بل راپور کې بیا ډېر بحث پر دې سوی دئ، چې وایي روسیې ته «د افغانستان د ځانګړي همکارۍ وړاندیز رسېدلی دئ» ــ په دې راپور کې روسي چارواکو ویلي دي: «موږ چمتو یو، چې سوداګریزو اړیکو ته پراختیا ور کړو، اقتصادي، ټرانسپورټي لوجیستیکي اتصال ځواکمن کړو.» د ټاس خبري اژانس بل راپور بیا د ۲٤-Rossiya TV په حواله د دواړو ملکونو تر منځ د زراعتي محصولاتو او په روسي بازارونو کې د افغاني تولیداتو پلور ته ځانګړې سوی دئ. «روسیه له افغانستان سره د اقتصادي همکارۍ د پراختیا نیت لري» تر سرلیک لاندي په بل خبر کې د افغانستان د اسلامي امارت د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند سره د روسیې د ولسمشر مرستیال په استناد زیاتوي، چې د (۲۰۲٤)ز تر وروستیو پوري د دواړو ملکونو تر منځ سوداګري (۳۲۳) میلیونه امریکایي ډالره وه. یاد روسي خبري اژانس بل راپور په روسیه کې د افغان شارژدافیر، جمال ناصر صاحب هیله رانقلوي، چې وایي تمه ده روسیه او افغانستان به د جیولوژیکي څېړنو او کاني زېرمو د استخراج په تړاو هوکړه لیکونه لاسلیک کړي.

- په کازان نړیوال اقتصادي فورم کې تر (۱۰۰) زیاتو هیوادونو استازي بلل سوي دي.
- د اسلامي امارت مشرانو په ګډون سره روسیه له افغانستان سره د اقتصادي همکارۍ د پراختیا نیت لري.
- روسیه د مځکنیو/ ځمکنیو فلزاتو له مخي د جیولوژیکي څېړنو بشپړه وړتیا لري.
- افغانستان بیا د وچي مېوې او کرنیزو محصولاتو په تړاو په روسي بازارنونو کي د پلور علاقه لري.

## د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

## ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱



## د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندي ادرسونو له لاري شریک کړي.
ټلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ (+۹۳)
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af

شتمني اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.